داکتر عبدالرحمن زماني ۲۶ فبروری ۲۰۱۵

# پر اماني دورې ديوهاند کاکړ کتاب ته يوه کتنه

(دوهمه برخه)

## 2. پر منشی علی احمد خان ورتپل شوې د انگريزانو درپوټ ليکونکي شيخ محبوب علی دئ

انگريزي مأمورين په افغانستان کي په خپل سفارت او قونسلگريو کي د نورو دندو په څنگ کي د استخباراتي معلوماتو د راټولولو په پراخه عملياتو هم بوخت وو. په اماني دورې کي په کابل کي د انگريزانو سفير، فرانسيس همفريز (Sir Francis Humphrys)، د اماني رژيم پر وړاندې د انگريزي دسيسو او توطئو په جوړولوکي خورا ستره برخه درلوده. همفريز تر هغه دمخه د۱۹۰٤ او ۱۹۱۷ کلونو په ترڅ کي د شمال لويديځ د سرحدي صوبې (ايالت) په بيلابيلو چوکيو کار کړي او په ۱۹۱۸ کال کي يې د يو څه وخت دپاره په هندوستان کي د بريتانوي نوې جوړې شوې هوايي قواکي هم خدمت کړي ؤ. هغه بيا وروسته د خيبر ايجنسی د پوليټيکل ايجنټ او د بريتانوي هند د باندنيو چارو د وزارت د مرستيال دندې پر مخ بيولي اود افغانستان چارو او افغانانو خصوصياتو سره ښه آشنا ؤ.

همفريز د افغانستان د خپلواکی او د ۱۹۲۱ کال د نومبر د ۲۲ مي نيټي د معاهدې نه وروسته په کابل کي د انگريزانو دلومړني سفيرپه توگه و ټاکل شواو د ۱۹۲۲ کال د جنوري د ۲۷ مي نيټي څخه وروسته د غازي امان الله خان د حکومت تر پاې اود انگريزي دسيسو تر برياليتوبه هلته ؤ. دهمفريز ميرمن هم په شمال لويديځ سرحدي ايالت کي د انگريزانو د لومړني او مشهور عمومي کميشنر «هيرالد دين» لور وه.



سفير همفريز، د خثيځو چارو د سکرتر شيخ محبوب علی اوپه کابل کي د انگلستان د سفارت يو شمير نورو غړو سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په خير و لولئ

شیخ محبوب علی د سفیر همفریز تر ټولو زیات فعاله هندوستاني مأمور ؤ، چي د همفریز په شان یی د بریتانوي هند په سیاسي چارو کي زیاته تجربه درلوده، او په کابل کي یی د انګلستان په سفارت کي د ختیځو چارو دسکرتر او مستشار په نامه هره میاشت د استخباراتي فعالیتونو دپاره شپږ زره (۶۰۰۰) هندي روپی مصرفولي چي دا هغه وخت ډیري زیاتي پیسي وی . (۱) د استاد فضل غنی مجددی په وینا حضرت صاحب محمد صادق مجددی لیکلي دي چي په کابل کي د انګلستان د سفارت د شرقي چارو سکرتر د حبیب الله خان [کلکانی] سره هم اړیکي درلودلی ، او د ۱۹۲۸ کال د دسمبر په میاشت کي یی د انګلستان د سفارت په روغتون کي د هغه د ټپونو علاج کړی ؤ. (۲)



د ختیځو چارو سکرتر شیخ محبوب علی وروسته د پولیټیکل ایجنټ په توګه د آزادو قبایلو په منځ کي
(هغه ته انګریزانو د خان بهادری لقب ورکړ اوه وروسته یی نه بیا ډیره درلوده او نه یی لونګۍ په سر کوله)

په جلال آباد او قندهار کي د انګریزانو قونسلانو هم د شیخ محبوب علی د لاس لاندي د انګریزانو د دسیسو په پلي کولو کي کار کولو، چي په دوی کي د شینوارو د اغتشاش په دوران کي د جلال آباد قونسل جهانګیر خان ډیر مهم او حساسه رول درلود.

لکه چي د انګلستان د آرشیف د اسنادو څخه څرګندیږي، د «امان الله د سقوط» په نامه رپوټ، چي د پوهاند صاحب کاکړ د کتاب یواځیني نوی او بیا تر ټولو مهم مأخذ دئ، د شـــیخ محبوب علی لیکنه ده، او دغه لیکنه په غلطه توګه په منشـــي علي احمد خان ورتړل شوي ده .

اوس چي مو د انګریزانو د استخباراتو د رپوټ اصـلي لیکونکي، شـیخ محبوب علی خان، وپیژندو، راشئ چي ووینو دا منشـي علي احمد خان چي کاکړ صـاحب یی د غازي امان الله خان د دربار منشـي بولي ښوک ؤ، او تر کومه حده یی معلومات سم او د باور وړ کیدای شي .

## 3. د غزنی د مومندو میرزا علی احمد خان نه خو د دربار منشی ؤ او نه هم د دقیقو معلوماتو خاوند

د بریتانوي هند د آرشیف د اسنادو د «څوک څوک دئ؟» یا Who is who? د دوسیي په اساس میرزا علی احمد خان د فقیر احمد خان ځوی د غزني اوسیدونکي د اماني دولت په لومړیو وختو کي د ګمرک د څانګي یو قراردادي ؤ، وروسته یی د غزني د حاکم د شخصي منشي په توګه دنده سر ته رسوله، او تر هغي وروسته بریالي شو چي په وار سره د جلال آباد، مزار او قندهار نائب الحکومه سره د نهو کلونو دپاره د منشي وظیفه سر ته ورسوي. میرزا علی احمد خان په اماني دورې کي کله چي غازی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

امان الله خان د قندهار د چارو څخه کتنه وکړه، د اعليحضرت لخوا تقدير او د ستور نښان تر لاسه کړ او وروسته د قندهار د سرحداتو مامور وټاکل شو.

ميرزا علی احمد خان يواځي په هغه موده کي چي دسقوي اغتشاش په نامه مشهوره شوې، هغه وخت چي غازی امان الله خان قندهار ته لاړاو هلته د شورا د منشی په توګه وټاکل شو او دافغانستان څخه د غازي امان الله خان تر وتلو پوري ، يواځي د څو محدودو مياشتو دپاره، دا وظيفه سرته رسوله .

د پيبني جريان داسي ۇ چي غازی امان الله خان د خپل لړ شمير وزيرانو او مشاورينو سره د ۱۳۰۷ کال د جدي د مياشتي په ۲۴مه نيټه (د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۴ مه ) قندهار ته لاړ او د خپل وړور سردار عنايت الله خان د سرنوشت تر معلوميدو پوري يي پرته لدي چي د خلکو سره تماس ونيسي، انتظار وويست . قندهار ته د عنايت الله خان په رسيدو سره دواړه ورونه د قندهار د ارګ په برنډه کي د قندهار او شاوخوا سيمو خلکو سره وکتل. غازي امان الله خان د وروستنيو پيبنو د شرحي په ترڅ کي د کورنيو او باندنيو دښمنانو لخوا دهغه د اصلاحاتو نا سم تعبير، او د کورنی جګړي او بي ګناهو خلکو د مرګ ژوبلي د مخنيوي په هيله د قدرت څخه د ګوښه کيدو او عنايت الله خان ته د چارو د سپارلو په هکله وينا وکړه، او حاضرينو ته يي واک ورکړ تر څو د جهل او وحشت سره د مبارزي او نظم او امنيت د اعادي دپاره د هغه او هغه د وړور تر منځه يو تن انتخاب کړي . دخلکو ليوالتيا بيا هم خپله امان الله خان ته وه، او سره لدي چي د هغه څخه يي يو څه شکايتونه او ګيلي درلودي، بيا يي د هغه واکمنی هرکلي وکړ، او هغه ته يي دخپل ملاتړ اطمينان ورکړ .(۳)

د هغي په سبا، پاچا په سلامخانه کي يو مجلس جوړ او خپله نوي کابينه وټاکله چي په هغي کي عبدالعزيز خان ته د حربيي د وزارت مسئوليت او غلام صديق خان څرخی ته دباندنيو چارو د وزارت مسئوليت ورکړل شو. ميرزا محمد عمر خان هم د حضور دمنشی او ميرزا علی احمدخان مهمند دشورا د منشی په توګه وټاکل شول . د کورنيو چارو وزير عبدالاحد خان، مأمورينو او خلکو ته د امان الله خان د بيا پاچاکيدو او سردار عنايت الله خان د استعفا خبر ورکړ. د دولتي ادارو نوي تشکيلات جوړ او د هغو د بودجي په تصويب کولو سره د حکومت څرخونو بيا حرکت او فعاليت پيل کړ . د باندنيو چارو وزير، غلام صديق خان څرخی، هم د تلګراف په ذريعه د افغاني سفارتونو له لاري دنيا ته د غازي امان الله خان د بيا پاچا کيدو خبر ورکړ.(۴)

وروسته له هغي چه غازی امان الله خان له قندهار او افغانستان څخه ووت، ميرزا علی احمد خان هم د خپلي کورنی سره کوټي ته لاړ. هغه په ۱۹۳۰ کال کي بيرته کابل ته راستون شو او تر ۱۹۳۵ کاله پوري په غزني کي بيکاره اوسيدو، د ۱۹۳۶-۱۹۳۷ کلونو تر منځ يي په غزني کي د عسکري قواوو د آذوقي قرارداد درلود. د ۱۹۳۸ کال د سپتمبر په مياشت کي د دولت د مخالفو سليمانخيلو سره د ملګرتوب په شک تر څارني لاندي ۇ، او په پاې کي په ۱۹۳۹ کال کي د کار موندلو دپاره کابل ته لاړ او د يوه مخور په سپارښتنه د فوائد عامي په څانګه کي مقرر شو.

څرنګه چي ميرزا علی احمد خان يواځي د يوي لنډي مودي دپاره مخکي لدي چي غازي امان الله خان هيواد پريږدي، په نوو تشکيلاتو کي د شورا د منشی په توګه وټاکل شو، نو جناب پوهاند صاحب کاکړ دا دعوه نشي کولاي چي هغه به د اماني دوري په هکله د کره او زياتو معلوماتو خاوند وي. يواځي امکان لري چي شيخ محبوب علی خان د خپل ريوټ په يوه برخه کي، هغه هم د ۱۹۲۹ کال په لومړيو مياشتو کي د قندهار، غزنی او مقر په پيښو کي د ميرزا علی احمد خان د معلوماتو څخه چي شخصاً هلته حاضر ۇ، استفاده کړي وي.

نو د پورتنيو معلوماتو په رڼا کي د ډاکټر صاحب کاکړ د کتاب د تر ټولو نوي او معتبر مأخذ په هکله دې نتيجي ته رسيدلي شو چي د هغوی د ادعا په خلاف :

- لومړي، دا ليکنه د منشي علي احمد خان نه ده .
- دوهم، ميرزا علی احمد خان نه خو د غازي امان الله خان د دربار منشی ۇ، او نه يي هم د خپل موقف په اساس کره او دقيق معلومات درلودلي شو.
- دريم، د کاکړ صاحب د ادعا په خلاف دا معلومات يواځي په هغه کتاب پوري منحصره ندي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

- ځلورم، دا کتاب په حقیقت کې د انګریزانو د استخباراتو یوه لیکنه ده او د بریتانوي هند په دفتر پورې اړه لري.
- پنځم، د هغه اصلی لیکونکي شیخ محبوب علی خان، په کابل کې د انګریزانو په سفارت کې د ختیځو چارو سکرتر دئ .

څرنګه چې په دتاریخ لیکنې په اساساتو کې د معتبره او لومړي لاس اسنادو څخه کار اخیستل مهم دي، نو آیا کولي شو چې د امانی دورې په هکله د پوهاند صاحب کاکړ کتاب د اعتبار وړ وګڼو؟

آیا پر داسي لیکنو او اسنادو ولاړ د«پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه» کتاب په رښتیا هم د تاریخ څیړونکو، شاګردانو او مینه والو ته په افغاني تاریخي څیړنو کې یوه په زړه پورې اضافه ګڼلای شو؟

(د دوهمې برخې پای)

## مأخذ


1. دانګریزي استخباراتو محرمانه اسناد، د بریتانوي هندآرشیف، ۲۱۲ ایف شمیر دوسیه، ۱۹۳۰ کال.
2. مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷)، ۳۰۰ و ۳۰۱ مخونه .
3. رشتیا، سید قاسم (۱۳۷۸)، ۳۸ مخ.
4. د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ ژباړل شوې، د انګریزانو استخباراتي رپوټ L/P&S/20/B289





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ